


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

1

# Faledonki Tror

(Aunt Palmist)


| | | |
|---|---|---|
| Published by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Editor - in - Chief | : | Raz Muhammad Dalili |
| Author | : | Muhammad Rafi Kabuli |
| Translate in Bushto | : | |
| Artist : | : | Fatana Baktash Arifi |
| Composed By | : | Saifullah Zamani |

1st Edition : 1000 copies, Financed by (SAFE), Sep 1998
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Mar 2000
3rd Edition : 5000 copies, Financed by (US-BRPM) Through (IRC-UGP), Oct 2000
4th Editon : 2000 copies, Financed by (TROCAIRE) and (Aus Aid)
5th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, February 2003
6th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, Sep 2003
7th Edition : 2000 copies, Financed by SDF, Dec 2003
8th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, Aug 2004
9th Edition : 1000 copies, Financed by SDF, Apr 2005
10th Edition : 2000 copies, Financed by gift of Norway school students, and NCA, SDO, Jun 2005

| | | |
|---|---|---|
| 11th Edition | : | |
| Publishing date | : | Feb 2007 |
| Number of copies | : | 1500 copies |
| Financed by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Kabul address | : | Sanayee Development Organization (SDO)<br>Charrahi Ansarri, street # 5th<br>Near (Muhammad Alam Faiz Zad) high school |
| Kabul telephone | : | 0093-(20) 2201693 |
| Post Box | : | 181 Kabul Afghanistan |
| Email | : | sdfkabul@ceretechs.com |
| Websites | ; | wwwsanayee.org<br>Www.nawidefarda.com |
| Peshawar Address | : | Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan |
| Telephone | : | 0092-91-5842155 - 91582165 |
| Fax | : | +92+-1-5845139 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱

## تصويري کيسه

# فال ليدونکې ترور

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د اوسني چاپ سریزه

د فال لیدونکې ترور هغه لومړني کتاب دی چې د هغه په زرګونو جلده د سنايي پرمختیایي مؤسسې له خوا چاپ شویدي. خو په دغه شمیره کې کتابونو هم د هغه د مینه والو تنده ماته نه کړه. د لوستونکو د غوښتنو او د اړتیا له مخې د سنايي پرمختیایي موسسې(SDO) یو ځل بیا ددې کتاب د چاپ اقدام وکړ ترڅو چې د پښتو د ژبې لوستونکو ته هم ورسیږي.

د یو کتاب د بریالیتوب لاس ته راوړنه د هغه موضوع ګاڼي دي چې لوستنوکي قدم پر قدم د رڼا په لور بیايي. د فال لیدونکې ترور خبرې د ټوپك سره چې د کتاب منځ پانګه جوړوي هغو لوستونکو ته چې زیات یې کوچنیان دي دا ورښايي چې سپین والی پر تو روالي او سوله پر جنګ همیشه بریالی ده.

هیله مند یم چې دا ځل زمونږ دا کتاب نور بریالیتوبونه تر لاسه کړي.

والسلام

راز محمد دلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مهتمم سریزه

ګرانو لوستونکو:

دغه کتاب چې همدا اوس ستاسو په لاس کې دی، د ماشومانو لپاره هغه لومړني کتاب دی چې د سنايي پرمختيايي موسسې د خپلو فرهنګي او علمي فعاليتونو په لړ کې خپور کړی دی. څکه چې ماشومان د بشر په ټول ژوند کې تل د کيسو او نکلونو سره زياته علاقه او مينه لري. ماشومان مبالغه لرونکې او تصوير لرونکې کيسې زياتې خوښوي. چې دادی د فال ليدونکې ترور کيسه د هغوي د تخيل د ځواک د ځواکمنۍ او قدرت او د ذهني پياوړتيا لپاره تياره ده. په ټول کتاب کې ښه والی او بدوالی د نظم او نثر په قالب کې پرتله او مقايسه شوی دی. ددې ډول کتابونو د خپور او برابرولو هدف د ماشومانو د مطالبې د ذوق راويښدل، هڅول او د هغوي د روز نيزو استعدادونو پالنه ده چې د سنايي پرمختيايي موءسسه يې د ماشومانو لپاره د خپلو نشراتو په لړ کې سرته رسوي.

هيله لرو چې ددغه څراغ رڼا زمونږ د ګرانو ماشومانو لپاره د لارې رڼا و اوسي او د هغوي د علاقې او مينې وړ وګرځي. د دوستانو نظريات، نيوکې او وړانديزونه زمونږ سره د راتلونکو قدمونو د پورته کولو په لاره کې مرسته کوي او مونږ لانور هڅوي زما کوښښ او هڅه له دعا پرته بل څه نه دی، ای لويه خدايه! ستا د رحمت غوښتونکي يم.

و من الله توفيق

راز محمد دليلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فال لیدونکې ترور

وه نه وه د سمندرونو تر منځ یوه جزیره وه. په دې جزیره کې یو شین ځنګل و، چې په منځ کې یې ځناور، مرغۍ، حشرې، ښبنیدونکي (خزنده ګان) او انسانان سره اوسیدل. هلته نه لوګي وه او نه هم ګرد او دوړې. د سهار پر مهال، بلبل مرغۍ له خوب څخه ویښولې. کله چې شپه کیدله ټول الوتونکي او ښبنیدونکي آرام بیده کیدل. یواځې چرچرك غږ ویستلو او چرچر یې کولو. الوتونکو او ښبنیدونکي یو له بل سره مینه درلودله. د هغوي تر منځ یوه هم فال لیدونکې ترور وه چې فال یې لیدولو او ښبنیدونکي او ژوي یې نیکو کارونو ته هڅول او له بدو یې منع کول.


یوه ورځ د سوی (خرګوش) بچي د غاښ درد درلود. ځکه چې ډیر خواږه یې خوړلي وو او سهار مهال یې غاښونه نه پریمینځل. فال لیدونکې ترور د کوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتله ځو چې د ســـــوی د بچي پوښتنه وکړي. فال لیدونکې ترور په لار روانه وه او د ځان سره يې د اسندره ویله:

ترورېم فال ګورم
د ماشومانو فال ګورم
د لاس په کرښو کې
حال او احوال وینم
فال لیدل آسان نه دي
زه یې پر کمال ګورم
راشي چې ستاسې فال
زه يې بې له جنجال وګورم
ستاسې زړه د عشقه ډك
زه تل او په هرحال وګورم
جنګ او شور پای ته رسي
زه ددې احتمال ونیم
سوله په هر ځای کې
همدا کال وینم
د نړۍ بدبختي
مخ پر زوال وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

میږې د جوارو یوه غټه دانه په خوله کې نیولې وه او خپل کورته یې لېږدوله. څنګه چې ډېر ستړې او ستومانه وه، د جوار دانه یې په یو کونج کې کېښوده ترڅو چې ستړیا یې ووځي.
په دې وخت کې یې فال بینه ترور ولیده، میږې یو ځل د خوښۍ غږ پورته کړ او ویې ویل:


سلام فال بینې ترور

اې هوښیارې ترور

ته هم زمونږ عمر او کال

راشه ووینه زما فال

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

فال لیدونکې ترور چې کله د جوار غنمه دانه ولیدله نو د میږي همت او ځواك ته حیرانه شوه. هغې د میږي پښې ونیولې او د هغه د فال دلیدلو سره یې وییل:

اي زیار کښه میږیه
لاړ شه دا نه راوباسه
د غنمو او وربشو دانه
نوې او تازه دانه
د لوبیا او نخودو دانه
چې د تاك د لاندې پرته
کله چې ژمی شي
تلل به آسان نه وي
ته د انګورو دانې څخه
لږ څه مچې ته وکړه
اخر تا ته خدای
بچي درکوي

کله چې فال بیني ترور د میږي فال ولیدلو نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره روانه شـوه. په دې وخت د ملاريا ماشــي غنګک، غنګک کولو، په هوا کې څرخيدلو او د ځان ســره يې ويـيل:


افسـوس، افسـوس چې ما پرون شپه هيڅ يو ماشـوم ونـه چيچلو. هر څومره کـوښښ چې مـې وکـړ څو د جالۍ نه تير شم، تير نه شوم. وای زما بـخت بـند دی.

ناڅاپه د ماشي فال ليدونکې تررور ته پام شو، پر يوه ډبره کښينا ست او ويې وييل:

چرته ځــې ای تــرورې
څه وخت فــال ګــورې
ووايـــــه زمـــا حــال
راشه وګوره زما فـــال

فال ليدونکې ترور چې د ماشــي زياتې خبــرې اوريدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

وې ډېره عصبـــاني او په غصه شـــوه نو ځکه يې مخ ور واړولو او ويې ويېل:

ستـــا فـــال نـــه ګـــورم
ته اي د ماشومانو دښمن
ته ورځې بيـــــده کـــيږې
او د شپـــې فعـال کـــيږې
چيـــچـــې انســـــانـــان
ښـــــځـــې او مـــاشومان
ګرځې او غنـــګ کـــوې
هر ځـــاي کـــور پـــه کور
ټول خلـــك کـــړکـــې ته
نيســـي پشـــه خـــانــــه
پنګك، پنګك بـاســـې اواز
ته اي د ناروغـــيو نـــاقل
ته اي ناپاکـــه مـــاشـــي
اخـر بـــــه هـــلاك شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دي وخت د شاتو مچۍ چې د باغونو د ګلونو په لور روانه وه چې شـــات راټول کړي د ليرې ښکاره شــوه. کله چې ماشـي د شـــاتو مچۍ وليدلــه والوتلــو او وتښتيدلــو. مچۍ د فــال ليدونکـې تـرور خواتــه راغلــه او پر يــو لــرګي کښيناستله. د فال بينې ترور سترګې د مچۍ د پاکۍ او نظافت ته متوجه شــوې. د شـــاتو مچۍ ترور ته د مچيو کيســـې وکړې او په ډير ادب او نزاکت يې له فال بـــينې ترور وغوښتل چې د دې فال وګوري:

ســــلام اي فـــال بيـنې تـــرور
ســلام اي د ديــــن خــورې
مـــا له حـــالـــه خـــبر کـــړه
مهرباني وکړه او زما فال وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې فال ليدونکې ترور د شاتو د مچۍ په ليدلو خوښه وه د هغې وزريې ونيولو فال يې ورته وکتلو او ورته ويې ويل:

اي بـــا نظـافتـــه مچـــۍ
ته د شرافت کان او تهوته يې
ته د رنګه ګـــلانو څـــخه
د غمګينه ماشـــوم لپــــاره
جـــوړوې نازکـــه شـــات
د ګل او غـوټۍ پـــه شـــان
ستا شات لکــه درمــل دي
درمل د خـــدای د لـــوري
ستا شـــات جـادو شـــوي
ځـــــاى دې کـــندودی
ستا کـــند و پـــرځـــمکه
ستا فال همـــداســــې دی
خدای تـــاتــــه درکـــوي
هر څـــه چې ســـتا ارزو ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځنګل کې یو موږك و چې تل یې کورونه ســـوري کول، د ماشـــومانو کتابــونه او جامې یې ژوولې، د خلکو کرت یې غلا کول. موږك تر ســـــهار ره په خپله سوړه کې فکر کولو چې سهار کوم کورته ولاړ شي.

ترور چې کله پر لاره روانـه وه، مـوږك د هغـې د پل غـږ واورید او خپل سر یې د سوړې څخه راوویسـتلو او ویې ویل:


چرته یې فال بیني ترور

په دغو کمزورو سترګو

زمـا فـال وګــــوره

تا ته یو کرت درکــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

فال بيني ترور ووييل: زه ستا حرام كرت نه غوارم. راشه فال دې وګورم او ځم. وروسته فال بيني ترور د موږك غوږونه ونيول او ويې وييل:

زمونږ طالع سستې شوي وي
زمونږ موږك غل شوى دى
د خلكو د كرتو غل
د غنمو د كندو د لاندې
د مغزياتو او بادامو غل
چې هميشه وي پر بام
ترسهاره كوي كار
صندوقچه كړى سورى، دا مهال
كتابونه دې وژوول
ليكنه دې ونه ليدله
تا پسې ګرځي پيشو
اخر به شي لادرك
يا هم د اسمان د قضا څخه
تا به ونيسې تلك

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ترور د موږك د فال پرليدلو بوخته وه شمشتۍ په ډيرز يار سره په لاره تلله. شمشتۍ (سنګ پشت) تللې وه چې تهول ژووي (ځناور) الوتونکي او ښبيدونکي (خزندګان) د چرچرك د لور واده ته را خبر کړي. دوه ورځې واده ته پاتې وې او شمشتۍ له يوې مياشتې د خبر په رسولو مصروفه وه، خوتر اوسه يې فاخته، قانغوزك، چڼچڼه، ملخ، شبپرك، ښارو، موش خرما او مچ بايد خبر شوي واى. کله چې د شمشتۍ سترګې په فال بينې ترورو ليګيدلې نو وې ويل:

سلام اي زما ترور
اي زما د غاټولو ګله
که په ختهو کې بنده پاتې نه شم
نو تاکورته رسوم
ته زما پر ملاسپره شه
زما په زيږه پوستکي
وايه ته زما د حال
په لاره کې وګوره زما فال

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

فال بيني ترور وخندل او ويې ويیل: اي ساده شمشتۍ، هغه څوك چې پخپله په لاره نه شي تللي څنګه کولای شي چې بل څوك په شا يوسي، راشه اي زوروره تنبله چې فال دې وګورم.

تـــه اي تنـــبلـه ځنـــاوره
تــــل يـــې ســــتړی
پـــــه تيــــږه او ګــــــياه
وروځــــي پــــــــه لاره
ستـــا ســـخـــت پوســـتکی
ستا بخـــت تـــړل شـــوی
ګرځيدلی ضرب المـــثل يــې
د تنـــبلو خلــــکو ســــره
نه کوي د رواج لـــه مـــخـــې
ستــــا ســـــــــــره واده
که چيرې ته د زړه نه ځـې پر لاره
کلــه رســـې خپل منـــزل ته
څـــه، څــــه ژر کـــــــوه
ســـرعـــت دې زيــات کـــړه


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

فال ليدونکي ترور په فکر کې لاړه چې کله ځناور
ورو ځي هيڅکله هم خپل کار ته رسيدلای نه شي.
کله چې د ترور سترګې لمر ته شوې نو ويې ليدل چې
غرمه نږدې شوې ده، نو ځکه يې پر لاره ژر، ژر
ګامونه پيل کړل چې وربانديې ناوخته نه شي. په پای
کې د سوی کورته ورسيدله او د سوی بچی يې په
غيږ کې ونيولو، خو له يې ورته پرانيستله چې
غاښونه يې وګوري. ترور وليدل چې د سوی د بچي
غاښونه خيرن دي، نو ترور ورته وويل که خپل
غاښونه ونه وينځې او تر هغه وخته چې بوتې او
خواږه وا ښه خورې نو هيڅکله به دې غاښونه ښه نه
شي او خوله به دې هم بوي ورکوي. د غرمې وروسته
ترور د سوی د کوره راووتله او د خدای په اماني يې
وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاره کې ترور د يوې ونې تر څنګ تيريدله، ويې ليدل چې د وريښمويو چنيجې په ونه کلك شوې دي او تار جوړوي. د وريښمو چينجي پاك او با نظافته و او سپين والي يې لکه د واورو و. د وريښمو چينجي د تو تانو د ونو پاڼې خوړلې خو هيڅکله يې پاڼې نه چټلولي. د وريښمو چينجي وويل:

سلام، سلام تورې
ته چرته روانه يې
زه د ر پسې خفه يم
لايقه چينجی شوی يم
زما وخت فارغه دی
راشه وګوره زما بخت

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

فال بینې ترور وویل، ولې یې نه ګورم، زه ستا فال د زړه له اخلاصه ګورم. ته د انسانانو خوښیږې او تا په کور کې ساتي. تا ته د توت تازه پاڼې اچوي. وروسته ترور د هغې فال لیدل پیل کړل.

ای د وریښمو چینجیه
ته له ما څخه لیرې مه ځه
ستا تارلکه د سیم دی
کار دې دی بې ویرې او بې ډاره
ستا له تاره په هیواد کې
خلک جوړوي چپن
نرم او ښکلي کالي
څنګه مقبول او رنګ، رنګ
ته یې بې ضرره جینجی
ملا دې تړلې خدمت ته
کله ورسیږي میاشت د حوت
په پښو دې نشته بوټ
تا ته به درکړي خدای
یوه بوجۍ پاڼې د توت

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې فال بېینه ترور د یو خندق تر څنګ تیرېدله د ځان سره یې وویل: دغه خندق د اوسیدنې ځای نه دی. ښایي په دې خندق کې بدبخته او ناپاکه ځناور ژوند وکړي. دغه خندق څومره بوي کوي. زه باید ولاړه شم. ټول ژوي، حیوانات او ښنبیدونکي خبر کړم څو چې لاس پر لاس دلته راشي او دغه کثیف خندق له خاورو ډك کړي. ځکه په هغه ځنګل کې چې موږ ژوند کوو پر موږ لازمه ده چې هغه ډك کړو او پاك یې وساتو. ځنګل زموږ کور دی. په دې وخت کې چندښې له اوبو سر راپورته کړو او په بې پروایي او ګستاخه توګه یې قرقر کړ او ویې ویل:

اې جګې قد لرونکې ترور
ستا خوراك نوش پیاز دي
راشه چې د اوبو لاندې کښینو
او زما پوښتنو ته ورکړو ځواب
که چیرې وواپې زما ل فال
زما حال او احوال
درکوم مرخیړي
څو چې و باسې ارګمې

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

ترور د چنډ ښې پر ځواب کې وویل: زما کثیف ځایونه نه خو ښیږي. اي بې نظافته چنډ ښې، ته پر خپل ځای اوسه او زه دې له دې ځایه فال ګورم. نو ترور وویل:

اي قر قری چنډ ښې
په کثافت کې مړه کیږې
ته اي مردارخورې چنډ ښې
اخر ناروغه کیږې
به سلو ناروغیو ګرفتاره
کمزورې، زړه او بې زاره
ته له کثافت لیرې شه
پاکې خواته لاړه شه
زما خبرې د یاده مه باسه
زیار وباسه که نه نو
ستا رنګ ژیړیږي
ستا بخت بدیږي
څوک ستا دوست نه ګرځي
پوستکی دې داغیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

د مازيګر د لمانځه وخت و او فال ليدونکي ترور د خپل کور په لور روانه شوه په لاره کې يې د ځان سره ويل: زه بايد د فيل، اوښ، آس، غاترې، زرافي، کانګرو، قاز، شتر مرغ، زمرى، پړانګ او بيزو کورته لاړه شم او ټولو ته ووايم ځو چې راشي او دغه کثيف خندق ډك کړي. زه بايد ددې کار لپاره مهال ويش جوړ کړم او د کار ورځ وټاکم. يو تن بايد د کار له لړۍ څخه سر پرستي وکړي. اوه! ددې کار لپاره زرافه مناسبه ده. ځکه اوږده غاړه لري او ټول ځارلاى شي. کله چې ځناور د کار پر وخت ترې کيږي نو بيزو بايد او به ورکړي. ترور د مهال ويش پر جوړولو بوخته وه چې د ولې دونې د شا څخه ټوپك راووت او په عصبانيت او قهر سره يې وويل:

چرته ځې اي ترورې
سر دې لکه د خوسکي دى
پوه شه چې زه ټوپك يم
زه جنګ ته چمتو يم
زه له چانه ډاريږم
هر څومره چه وژنم بس نه دي
حتماً وکوره زما فال
چې زيات شي زما مال

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

فال بینه ترور وار خطا او اوتره شوه، پښې یې سستې شوې. ترور پر ځمکه کښیناسته، سر یې په لاسونو کې ونیولو او په کرکه یې خپل مخ واړولو او ویې ویل:

اې ټوپکه پرتا لعنت
ستا سره کله کیږي صحبت
ستا کار، کار د جنګ دی
زړه دې لکه ډبره
ته وژنې انسانان
حتی زړې ښځې او ماشومان
پرې کوې د خلکو ژبې
ماتوې هډوکې
د انسان دښمن ته یې
د غلو پرلاسونو ته یې
د ځوانانو ضد ته یې
د هر چا د ځان بلا ته یې
ستا فال وایي چې ژر به
په خیر سره ځې له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوپك خجالت شـــــو او خپله لاره يې ونيوله او لاړ. فال ليدونكي ترور لـه ډيرې ويرې تږې وه نو پاڅيدلـه چې ځانته اوبـه راواخلي. دې خوا او هغه خوا لاړله. ترور سـر ګردانه ګرځيدله چې يوې چينې ته ورسيدله چې د هغې څخه پاكې او بـــــه راواخلي. ترور د چينې خواكې كښيناستله، خپل لاسونه او پښې يې پريمينځلې اوبوته نږدې شـــوه چې هغه وڅښي. په دې وخت كې سپينه كوتره راغلله، فاليدونكي تـرور د كوتـرې په ليدولـو خوشحـــاله شـوه. كوتره راغله، د چينې پر هغه غاړه د ترور مخې ته كښيناستله. او ويې ويل:

ســـــلام ښكــلې تـــــرور
ستا ځـاى په زړونو كـــې دى
د مهربانۍ څخه په ډكو زړونو
د زمريو په ډك ځنګــل كــې
چـــرتـــــه وې اې تـــرور
ولــــې پـــريښــــانه يـــې
ونيسه، ونيســـــه زمـــاوزرې
وګوره، وګوره زمـــا فـــــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

فال لیدونکي ترور د ټولې ورځې کیسه کوترې ته تیره کړه او کوترې همدغه کیســــــه د زړه په غوږونو واورید له. کوترې د مینې له مخې د خپل جاغور څخه د غنمو یوه دانه راوویســــتله او فال لیدونکي ترور ته یې ورکړه. فال لیدونکي ترور د کوترې وزرې ونیولې اووې وویل:

اي زما سپینې کــوتــرې
ته زما د هیلــو زیرمـــې
اي ښکلـــې مــرغـــۍ
سپینې، شوخې او تیرې
ستــــا د غــمبرغـــږ
ستـا د ډکـــې سیـــنې
کله چې غـــږ باســــې
نو زړونــه پرانـــیزي
ستا د وزرو سپـین والی
همداسې وایي ستا فال
ته د خدای خـوښیـــږې
له مونږه نه شې جــــلا
زه یم فال بـــینه تــرور
خو نــه لــرم چشـــمې
لمر د بـام تر شـــاشـــو
راځه چې ځو ماښـام شو
پاي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**